# کډوال بیوزلي، بیکاري او نا هیلي ته راستنیږي

# د افغانستان د کار بازار او د ښځو څرنګوالي



*انځور.: نورالله شیرزاد*


**علی احمد**


**نومبر ۲۰۱۸**

VIDC
VIENNA INSTITUTE FOR
INTERNATIONAL DIALOGUE
AND COOPERATION

## Publisher

Wiener Institut für Internationalen Dialog und Zusammenarbeit – Vienna Institute for International Dialogue and Cooperation (VIDC), Möllwaldplatz 5/3, A-1040 Vienna

www.vidc.org

Author: Ali Ahmad (VIDC)

Interviews: Afghanistan Development and Peace Research Organization (ADPRO)

Editors: Michael Fanizadeh and Sybille Straubinger (VIDC)

Copyright pictures: © Noorullah Shirzad/ADPRO

Proof reading and editing: Kim Traill

Published in accordance with §25 of the Media Law.

Copyright: Vienna Institute for International Dialogue and Cooperation (VIDC), Möllwaldplatz 5/3, A-1040 Vienna.

Basic issues: discussion papers on development policies, international cooperation and north-south cultural exchange in addition to anti-racist campaigning.

Grafic design: typothese.at

The study is part of "Dard Kush – strengthening livelihoods of Afghan refugees and Pakistani host communities", a project currently being implemented by FACES Pakistan in Lahore in cooperation with Caritas Austria and Caritas St. Pölten. The views expressed in this publication are those of the author, and not necessarily those of the editors/VIDC

VIDC VIENNA INSTITUTE FOR INTERNATIONAL DIALOGUE AND COOPERATION

Caritas Austria

Caritas Diözese St. Pölten

WITH FUNDING FROM AUSTRIAN DEVELOPMENT COOPERATION

# لنډيز

## 1. کتنه

د ا څيړنه د ويانا نړيوال ديالوګ او همکاريو انستيتوت او د دي انستيتوت د څيړني افغان شريک، د افغنستان پراختيا او سولي د څيړنيز سازمان په همکاري تر سره شوي ده. دا څيړنه د افغنستان د کاري بازار په هکله په ځانګړی ډول د کار غير رسمی سکتور او د ښځو د کاري ځواک په هکله تحليل وړاندی کوی. دا څيړنه د يوی ستري پروژي يوه برخه ده چي "درد کش - د افغان کډوالو او پاکستاني کوربه ټولنو د معيشت پياوړتيا" په نوم ياديږي. اوس مهال په لاهور کي د FACES پاکستان لخوا د Caritas Austria او Caritas St. Pölten په همکاري تطبيق کيږي. د اوتريش پراختيايی اداره (ADA) د دی څيړنی مالی لګښت په غاړه اخيستی.

**شاليد:** د 2016 کال په دويمه نيمايي کي پاکستان له نيم ميليون څخه زياد افغان کډوال له هغه هيواد څخه په زوره وشړل چی دا شميره د۲۰۰۱ کال د طالبانو د رژيم له ړنګيدو وروسته تر ټولو لويه شميره ده چی افغنستان ته راستانه شوی دي. دی بيرته راستانه شويو افغانانو د هيواد په ټولنيز او اقتصادي وضعيت ناوړه اغيز وکړ. دا په لسګونه زره بيرته راستانه شوی د کابل او ختيځو ولاياتو په لويو ښارنو کښی د کار موندنی په هيله ميشت شول چي کار وموميږ. ډيری راستنيدونکي مناسبي وړتياوی (مهارتونه) نه لري ترڅو وکړای شي د ښار اقتصادی وضعيت سره ځانونه عيار کړي.

د څيړني په لړ کي جوته شوه چي د افغنستان د ملي يووالي حکومت د دي وړتيا نلري تر څو د دي لوي يی شميری راستانه شويو لپاره مناسب استوګنځای او د ژوند نوري اسانتياوی برابري کړي. د معلوماتو او تخصص د نشتوالي له کبله کارځواک کي، د راستنيدونکو او د کار بازار کی د ښځو ادغام څيړونکو لپاره يوه مهمه ننګونه وه.

## ۲- د افغانستان د کاروبار خصوصياتو لنډيز

د ټوکل شوي ۳۰ ميليون نفوس څخه ۱۵،۹ ميليونه افغانان چی (۵۴،۶ سلنه تشکيلوی) د کارکولوعمر (۱۵-۶۴ کاله) کی قرار لری. نږدې 6.5 ميليونه افغانان استخدام شوی دی (5.2 ميليونه) ډير لږ ساعتونه په کار بوخت دی (1.3 مليونه) او ۲،۱ مليونه د کار کولو عمر خلک چی ۲۴ سلنه کيږی - بيکاره دي. نارينه ۸۰ سلنه (۵،۵ ميليونه) کاري ځواک تشکليوی په داسي حال کي چي ښځي د ۲۰ سلنه څخه کم (1.1 ميليونه) جوړوي. د کار ځواک ۷۷ سلنه څخه زيات (۵ ميليونه) په کليوالو سيمو کي استوګنه کوي. په ښاري سيمو کي د کاري ځواک کچه ډيره ټيټه ښودل شوی او دلايل يی د ښځو، ځوانانو او مشرانو لپاره د کار محدود فرصتونو ښودل شوی دی.

دافغانستان ځوان او مخ پر ودې نفوس، په کاري ځواک کي د ښځو ټيټه برخه، ښاري او کليوالي ستر ويش، د سواد اوتعليم ټيټه کچه، او په استخدم شويو کسانوباندي د اتکا لوړه کچه ټول د هيواد په کاري ځواک باندی اغيز لري.

## ۲.۱. کاري سکتورونه

کرهنه اومالداری په افغانستان کې د استخدام ترټولو لوی سکتور دی، چې۴۴ سلنه دندی (۲،۸ میلیونه وګړي) چی د هیواد کورني ناخالص تولید ( GDP) ۲۳ سلنه تشکیلوی. دا سکتور د ټیټ مهارت لرونکو دندو لوړه کچه لري، چې ۸۷ سلنه کارکونکی یی رسمي تعلیمات نلري او د لوستلو او لیکلو وړتیا نلري.

نږدې ۲۰ سلنه د افغانانو کاری ځواک (۱،۳ میلیونه ) د خدماتو په څانګه کې بوخت دي. نورسکتورونه لکه امنیت (اردو او پولیس) - یوازی ۴ سلنه، معارف ۴ سلنه ، ټولنیز خدمات ۵،۷ سلنه. نور اقتصادي سکتورونه د استخدام په احصاییه کې په سختی سره تر سترګو کیږي.

## ۲.۲. د ښځینه وو د کاری ځواک پیژندنه

ناامنی، کلتوري خنډونه او د تعلیم ټیټه کچه هغه مهم خنډونه دی چی د میرمنو د کاری بوختیاوو مخنیوي کوي. د کورني کارونو ترڅنګ، د ښځو کاری ساحه په عمومي ډول د کرنې او مالداری، تولید او خدماتو پوري محدوده ده. د ۷۸ سلنه څخه زیات وګړي چی د جامو په تولید او نساجی صنایعو کی په کار بوخت دی ښځې دي دا پداسي حال کې ده چی شا اوخوا ۶۵سلنه د میرمنوکاری ځواک په کرنه او مالداری کی بوختی دي.

د کارغیر رسمی بازار کی آزاد شغل ښځولپاره د عوایدو حیاتی او ګټوره سرچینه برابروي، په ځانګړي توګه په هغه ځایونو کې چې میرمنی د کلتوری محدودیتونو له امله له خپلو کورونو بهر نه شی وتلي. په کور میشته اقتصادی فعالیتونو کی غالی اوبدل، ګنډل، ګلدوزی، خیاطی او همدا ډول کرنیز فعالیتونه لکه د ژویو ساتل د لبنی محصولاتو خرڅول شامل دی.

**تعلیم او سواد:** یوازې ۳۴،۸ سلنه افغانان چې عمر یې پنځلس او تر هغې زیات ده با سواده دي ، چی دا سلنه د ښځو ( ۲۰ سلنه) او نارینه ( تقریبا ۵۰ سلنه) او همدا رنګه په ښارونو او کلیوالو سیمو کی توپیر لری. په ښاري سیمو کې څه باندي ۴۰ سلنه ښځې باسواده دي ، په داسې حال کې چی ۶۶،۸ سلنه نارینه لیک او لوست کولی شي. خو په کلیوالي سیموکی څه د پاسه ۴۵ سلنه نارینه او ۱۳،۱ سلنه ښځینه باسواده دي. په ټول هیواد کې بیا شپږ میلیونه ښځې او تقریبا څلور میلیونه نارینه چی عمرونه یی له پنځلس کالو څخه زیات دي د لیکلو او لوستلو وړتیا نلری.

**کلتوري خنډونه:** که چیري ښځې د کور څخه بهر کار وکړی نو د پام وړ کلتوري خنډونه او ټولنیز محدودیتونو سره مخ کیږی. داکټر لینا ابی رافع چی د جندر مطالعاتو مخکښه عالمه ده ,,د جندراو بین المللی مرستی په افغانستان کې - د مداخلی سیاست او اغیزی (چاپ ۲۰۰۹)" کتاب لیکواله ده وایي ! چی ډیری افغان میرمنی او نارینه د ښځو کارکول د هغوی د مطلقي بی وزلي او بیچاره ګي ښکارندویي بولي او همدا رنګه د میرمنو کار کار کول د نارینه وو وړتیا او وقار ته سپکاوی بلل کیږي.

فرزانه یوه ښځینه راستنیدونکې ده چی کابل ته نږدې باریک آب سیمه کې ژوند کوي همدي ته ورته نظر لری: "اکثریت نارینه د شرم احساس کوي که د دوی ښځی له کور څخه بهر کار وکړی . نارینه فکر کوی له کوره د باندي د میرمنو کار

کول د افغاني غیرت خلاف عمل دی هغو نارینه وو د بی غیرته او بي ننګه په سترګه کتل کیږی چی خپلو میرمنیو ته ډوډئ نشی ورکولی."

افغان میرمني د طالبانو د حکومت له سقوط وروسته ممکن له قانونی او سیاسی پلوه پیاوړي شوي وي اما کلتوری کړني چی د میرمنو وضعیت باندی زیاته اندازه اغیزه لري په خپل حال پاتي دي او کوم ځانګړی بدلون په کي ندي راغلي.

د خیاطی استاده نورینه چی له پاکستان څخه راستنه شوی څیړونکو ته داسي وویل: ,,کله چی زه د کار لپاره کور نه بهر وځم نو ګاوندیان مي فکر کوی چی زه خپل کار فرما سره ناوړي اړیکي لرم ." هغي زیاته کړه چي زه باید په داسی منفی تبلیغاتو او پروپاګند باندی سترګی پټی کړم که نه نو نشي کولاي چی کار وکړي.

## ۳. د مهمو موندنو او ژورو مرکو د تحلیل لنډیز

### ۱٫۳. د افغانستان ملی وحدت حکومت

د ښځو چارو وزارت مرستیاله اغلي سپوږمۍ وردګ وایی:

,,په تیر وخت کي د میوو او سبزیجاتو په پروسس او همدارنګه د زراعت په برخه کي ډیری ښځي روزل شوي دي، مګر مونږ د هغوی د محصولاتو بازار موندلو کی پاتی راغلو."

په افغانستان کي د څیړني تیم څوارلس ژوري مرکي (نه نارینه او پنځه ښځي) د ملی وحدت حکومت چارواکو، سوداګري خونو استازو، د افغانستان د مرکزي احصایی سازمان او بیلابیلو کارګري ټولنو سره یی تر سره کړي د نوموړو مرکو په لړ کي لاندی موضوعات روښانه شول.

**حرفوي زده کړي:** افغان حکومت ټولو حرفوي زده کړو ته خوشبین ندی. د کار او ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت وزیر فیض الله ذکي د اوس مهال پر روزنیزو ترینګونو نیوکه کوي نوموړی په دي باور دي چی ځیني مهارتونه د نوي نسل د چټک پرمختک غوښتونو سره د اوږد مهال لپاره سمون نخوري. د کار او ټولینزو چارو وزارت له ملګرو سازمانونو سره د ۳۸۰۰۰ افغانانو چی په هغي جمله کي ۱۷۰۰۰ یي میرمني دي د ټول هیواد په کچه ۸۲ مرکزونو کي حرفوي زده کړي برابروي. تر اوسه داسي معلومات ندی تر لاسه شوي چي یادو مرکزونو کي دی راستانه شویو او داخلي بي ځایه شویو ته په دي ترینګونه برخه ورکړل شوی وي .

**پرمختیایي مرسته:** د امریکا په مشری د ۲۰۰۱ کال له حملي راهیسي د نړیوالي ټولني لخوا افغانستان ته ملیاردونو ډالر په دي تمه ورکړل چی په دي هیواد کي سوله او سوکالي تضمین کړي. افغان چارواکو شکایت وکړ د دی پر ځاي چی دا مرستي د اوږد مهاله کاري فرصتونو په را منځ ته کونکو پروژو لکه صنعت، زراعت، اوبو او د ترانسپورت پر تاسیساتو لګول شوي واي مګر دا پیسي د بسپنه ورکونکي هیوادونو د ګټو او غوښتنو پر اساس مصرف شوي.

هغه کوچني پانګونه چي په تیرو ۱۷ کلونو کي په دي سکتورونو کي شوي هغه هم د هیواد خرابیدونکي امنیتي وضعیت لخوا اغیزمنه شوي ده.

**امنیت او بې وزلی:** په ۲۰۱۴ کال کي د ناتو ځواکونو وتل د افغانستان پر امنیتی او اقتصادي حالت باندي ناوړه اغیزه وکړه. دځواکونو له وتلو سره سم د غربت کچه په دراماتیک ډول سره لوړه شوي د اټکل شوي دیرش میلیونو وګړو څخه ۵۵ سلنه نفوس د بیوزلي د کرښي لاندي ژوند کوی، چی په ۲۰۱۱-۲۰۱۲ کي دا رقم یوازي ۳۸ سلنه وو.

لسګونه زره افغانان چی د بهرنیو ځواکونو او نړیوالو سازمانونو لخوا استخدام شوی وو خپلي دندي له لاسه ورکړي طالبانو خپل تحرکات له سره پیل کړل او د خپل کنترول ساحي ته یی پراختیا ورکړه داعش په افغانستان کي را پیدا شو چي په نتیجه کی د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ ریکارډ جوړ شو.

**بیرته راستنیدونکي:** کله چی د ۲۰۱۶ کال په دوهمه نیمایی کي یو لوي شمیر افغانان چی له پاکستان څخه شړل شوی ول د ملګري ملتونو دریو ادارو لکه (د ملګرو ملتونو پرمختیایی پروګرام، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري، او د کارګرانو نړیوال سازمان) د افغانستان د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت په همکاري د افغانستان د معیشت اوخوځښت (سلام) پروګرام دیزاین کړ. د سلام موخه د داخلي بی ځایه شویو او راستنیدونکي په ځانګري ډول د ښځو او ځوانانو اوږد مهاله اړتیاوي برابرول وو. سلام د ۲۰۱۷ د جنوري میاشت کي د امتحان په ډول سره د ننګرهار په شمول په شپږو ولایتونو کي پیل شو.

د افغانستان د سوداګرۍ خونو مرستیال، خان جان الکوزی د ملي وحدت حکومت او دهغوی نړیوالو ملاتړو باندي کلکه نیوکه وکړه چی د افغانانو لپاره او په ځانګړي توګه داخلي بي ځایه شویو او راستینذونکو ته د ژوند ژغورني خدماتو په وراندي کولو کي پاتي راغلي. افغان حکومت او نړیواله ټولنه یوازي د خبرواترو سره خواخوږۍ څرګندوي اما په عمل کي هیڅ هم نلري. ښاغلی الکوزی وویل خلک په بیدیا کي په خیمو کي ژوند کوي هلته چی د څښاک اوبه، کلینیک، داکټر او نور اولیه خدمات هیڅ شتون نلری.

**ښځې:** ډیرۍ بی تعلیمه افغاني میرمني په زراعت او کرهنیزو فعالیتونو کي بوختي دي. د ښځو چارو وزارت او همدا ډول د کرني اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت په ځانګري توګه ښځو ته د مالی او تخنیکي ملاتړ تر څنګ د حرفوي زده کړو پروګرامونه برابروي. په دي ورستیو کلنو کي د ښځو چارو وزارت دوه ویشت کامپلکسونه په ټول افغانستان کي جوړ کړي چی باغونه، ورکشاپونه او مارکیټونه پکي شامل دي تر اوسه شاوخوا ۷۰۰۰ میرمني د میوو او سبزیجاتو په پروسس ، ګلدوزي، خیاطی او لاسي صنایعو کي روزل شوي دي.

**دولتي پروژې:** له ۲۰۱۶ کال راهیسي ۲۷۰۰۰۰ هغه میرمني چی د کورنۍ مسولیت په غاړه لری ، بي وزلي کورنۍ، فزیکي معلولین او بي ځایه شویو کسان چی زراعتي ځمکه نلري ، د کرني اوبو لګوني او مالدارۍ وزارت د کورنۍ اقتصاد ریاست له ملاتړ څخه برخمنی شوی دی .دا پروژي په کلیوالي او ښاري سیمو کي پلي کیږي چي دکرهنی او مالداري اړوند پروژو لکه زعفرانو تولید، د خوړو پروسس، باغداري، د شنو خونو جوړښت، د مچیو ساتنه او د چرګانو فارمونه دي چی

په کليوالي او ښاري سيمو کي پلي شوي دي. په هغو سيمو کی چی کرهنيز ځمکه کمه ده، د کورنۍ اقتصادی مسوليت د ښځو په غاړه ده د ځارويو مرسته هم کوي تر څو هغوي سره د عايد په لوړولو کي مرسته وکړي.

د متحده ايالتو د نړيوالي پرمختيايي اداري (USAID) د افغان حکومت په همکاري په ۲۰۱۴ کي ,,Promote" پروګرام پيل کړ او موخه يی دا وه چی د ۷۵۰۰۰ افغان ميرمنو سره مرسته او وضعيت يي ښه کړي ورسره د ښځو ونډه په حکومت، تجارت او مدني ټولنو کي يقيني کړي. سيګار يا د افغنستان د بيا رغوني لپاره ځانګړي عمومي مفتش د ۲۰۱۸ په سپتمبر کي راپور ورکړ چی د پروموت پروګرام يوه ناکامه او د ماليه ورکونکو پيسي ضايع کول وو.

## ۲،۳. پرمختيايی سازمانونه، کار ورکونکي، روزنکي او متخصصين

"د ملی يووالی حکومت يو ناکام حکومت دی ځکه چی ژمنه يی کړی وه د خلکو لپاره به د کار زمينی برابره وی مګر برعکس، ډيرو خلکو خپلی دندي له لاسه ورکړی. د ملی يووالی حکومت او بهرنيو هيوادونه له کډوالو او بيرته راستنيدونکو څخه د سياسی ابزارو په توګه کار اخلی تر څو خپلی سياسی ګټی خوندی وساتی ."

فتانه ګيلانی ـ د افغانستان د ښځو ټولني مشره

ځيرونکو پنځلس ژوري مرکي (لس ښځی او پنځه نارينه) وو د نړيوالی نادولتی موسسي، استخدام کونکی، روزنکي او متخصصينو سره ترسره کړی. له ۲۰۰۰ زيات نادولتی موسسی د افغانستان اقتصاد وزارت سره ثبت او راجستر دي چی دا موسسی د ټولنيزو خدماتو، روغتيا، معارف او کرني په برخو کی فعاليت لری . لاندني برخه د بيلا بيلو شريکانو د کار موندلو پروګرامونه او هلو ځلو په هکله ی لنډيز وړاندی کوي.

په کابل کی د آلماني ټولني د نړيوالو همکاريو دفتر د پروګرامونو همغږي کوونکي هاشم رسولی په دی باور دي چی راستنيدونکی او داخلی بي ځايه شوی کسانو لپاره د کار موندنی مهارتونه کافی ندي. د پيسو پرته چی پانګونه وشي اويا ورباندي کاروبار پيل شی ، نخبګانو سره نه پيژندنه د راستنيدونکو لپاره ډيره ستونزمنه ده چی دکار ځواک کی داخل شي. بلال ځدران چی د ناروی د کډوالو شورا د معيشت او خوړو خونديتوب همغږی کونکی دی وايي: د راستنيدونکو مهارتونه د افغانستان د بازار له کار سره سمون نخوري د ښاغلي ځدران په وينا داسي يو جامع پروګرام چی راستنيدونکي او داخلی بي ځايه شوو سره په افغانستان کی مرسته وکړی وجود نلري.

ډيری نړيوالو سازمانونو د کارموندني پروګرامونه جوړ کړي تر څو راستنيدونکي، داخلی بی ځايه شوی او ښځي په کاری مارکيټ کی ادغام کړی GIZ په ۲۰۱۴ کي د افغانستان په اوو شمالی ولايتونو کي اقتصادي پرله پسی پرمختيايی او د استخدام د ودی (SEDEP) پروژه پيل کړه او په ۲۰۱۸ کی يي د راستنيدونکو برخه ور اضافه کړه او هغه کسان چی له اروپا او پاکستان څخه په تيرو دوو کلنو کی راستانه شوي ورته د مرستی وړانديز کيږی .

ډاکار يا د افغان مهاجرينو مرستي لپاره د ډنمارک کميټه په پام کي لری چی ۲۸۰۰ راستنيدونکی، داخلی بی ځايه شوي، ځوانان او کوربه ټولني وروزي او کاري فرصتونه په کرهنيزو او غير کرهنيزو فعاليتونو کي برابر کړي.

RADA یا افغانستان لپاره د راستنیدونکو د ارزونی او پرمختیا د ۳۰۰۰۰ زیانمنونکي افغان ځوانانو په ځانګړي ډول له ښځو څخه چی له اروپا، پاکستان او ایران څخه راستانه شوي دي د تخنیکی او حرفوي زده کړو پروګرامونو په وسیله ملاتړ کوی.

**بریالی کیسي:** ښځینه راستنیدونکي په رسمی او غیر رسمی کاری سکتور کی د سوداګری، د تجارت مالکینو او کارمندانو په توګه فعاله دي سره د دی چی ننګونو سره مخ دي. شیرین اکبري چی اولس ۱۷ کاله یی پاکستان کي د کډوالی ژوند تیر کړي چیرته چی هغه د غالی او لاسي صنایعو په جوړولو بوخته وه اوس مهال هغی په کابل کي ۵۰ نه تر ۶۰ کورني د خپل غالی اوبدلو او لاسی صنایعو تجارت کی چی خواهران نومیری په کارګمارلی دي. آغلي اکبري ومنله چی د پام وړ کلتوري او مالی ستونزي ښځو لپاره شتون لری، خو په دی باور دي که چیری ښځو ته ډیر کاري فرصتونه برابر شي نو ښځي به په اقتصادي ودی کې ډیره برخه واخلي.

مریم جامع الاحمدی په لویدیز هرات ولایت کی د بانو په نامه د کښت، حاصلاتو راټولو او د خوړو پروسس شرکت پرمخ بیایی میرمن احمدی پخپله یو وخت په ایران کي کډواله وه اما اوس یی د یو دیرش ښځو لپاره د کار زمینه برابره کړې ده. هغه ډیرو خنډونو سره مخ ده خو هغه هوډ منه ده چی د افغانستان کلتوری محدوده ونکو نورمونو په مقابل کې مبارزه وکړی. د اغلی احمدي په وینا د زراعت له لاری پانګونه د ښځو په پیاوړتیا کي مهم رول لرلای شی او د دي سبب کیږی چي ښځي د کور دننه او بهر په پریکړو کي برلاسي کړي.

## ۳,۳. بیرته راستنیدونکي

"دا یوه بیدیا ده . دلته اوبه نشته . دلته خلکو لپاره کار نشته دا ټول د دي سبب شوی چی کله ناکله حتی تر دریو ورځو پوري په دی ونه توانیږو چی د خوراک لپاره څه پیدا کړو. مونږ افغانستان ته په دی تمه راستانه شوو چی ژوند به له پاکستان څخه بهتره وی مګر دا یو بیوزله هیواد دې حالت یی له پاکستان څخه ډیر خراب دي دلته د نجونو او میرمنو لپاره هیڅ درناوی نشته. دا د وزګارو خلکو هیواد دي. خلک یی یو بل سره مرسته نشی کولي ځکه چی دوی خپله بیوزلي دي."

**زرڅانکه، د کورني مشره**

د افغانستان ختیځ کی یوویشت مرکي په دوو غیر رسمی او یوه رسمی کمپونو کي تر سره شوي چی له هغی جملي څخه یوي میرمني او څلور نارینه وو د بهسودو پله په کمپ کی چی د جلال آباد ښار کي واقع دی او شاوخوا سل کورنی پکی ژوند کوی، د ګمبیري په کمپ کی اوه نارینه او یوه ښځه چه د ننګرهاراو لغمان ولایتونو په منځ کی یوه غریبه کلیوالي سیمه ده، او همدا رنګه دوه نارینه او شپږ میرمني د کابل په شمال کی د باریک آب ښارګوټي چی د پروان ولایت سره په پوله پروت ده تر سره شوي.

اعظم چي په ۲۰۱۶ کال کی له خپلي کورنی سره له پاکستانه را شړل شوی او اوس مهال په ګمبیري کمپ کی ژوند کوي داسی وایی : "ماشومان مي پوښتنه را څخه کوې چی ولې داسی یو هیواد ته راستانه شوو چي ژوند کولو لپاره هیڅ نلري.

کور، اوبه او کار نشته.” نورو راستنیدونکو په ګمبیري او بهسودو پله کي ورته ناهیلی بیان کړه د کاري فرصتونو نه شتون، د سرپناه، اوبو او اساسي خدمتونو له نشتوالي څخه یي سر ټکاوه هغوی داسی انګیري چی په تولیزه ټوګه یوازی پرېښودل شوی . سپکی سپوري ورته کیږی د ولایتي چارواکو او سیمیزو جنګ سالارانو لخوا ځورول کیږي. د باریک آب دری سوه کورنی هم د کار، سرپناه، صحت، اوبو، برق او عالی لیسو د نه شتون څخه ځوریږی اکثریت یي په دي باور دی چي ژوند یی په پاکستان کي ښه وه.

د اکثریتو مرکه کونکو لپاره د سرپناه موندل لومړیتوب درلود ځکه چی هغوی ته په صحرا کی د کورنی په پرېښودل او په کار پسی وتل نا ممکن بریښیدل. یوه راستنیدونکي په ګمبیري کي داسی وویل: “لومړي کوراو بیا کارموندنه.” د باریک آب مرکه کونکي بیا د خپلو غربي ډوله کورونو باندې ناخوښ ول ځکه چی دا کورونه محافظتی دیوالونه نلري په وچ ډاګ د آسترالیا حکومت په مالی مرسته جوړ شوي دې.

افغان میرمني هیله لرې چی د کاروبار بازار کې شاملي شی خو دا هیلي دبیلا بیل خنډونو سره مخ دی بې سوادي، د تعلیم ټیټه کچه، کورني، کلتورې او ټولنیز خنډونه ټول د ښځو د کار او اقتصادی فعالیتونو مخه نیسې. په نوموړو دریو کمپونو کی چی له کومو میرمنو مرکی شوی د دوی لپاره د کور د ننه عوایدو غوره سرچیني لکه غالی اوبدل، خیاطي، ګلدوزي، او ګندل دي. مګرباید وویل شي چی دا عاید بی اعتباره او نا منظمه دی. ښځي اکثرآ د خپل محرم پر عوایدو او کارپوري تړلي دي. نارینه په نورو مزدوریو لکه موټرچلول، مستري ګري او د معلمی چارو باندي چی د ګمبیري مکتب کي د یونیسیف لخوا تمویلیږي، مصروف دي.

ثمر د باریک آب کمپ ته یوه را ستنه شوی داسی وایي : “زه افغانستان ته په راستنیدو پښیمانه یم. زما کډوالي ژوند په پاکستان کي ډیر ښه و. ما تمه درلوده چی ژوند به مي کال په کال ښه شي خو هر څه برعکس شول. که چیرې ماته بیا فرصت تر لاسه شي نو بیا به هجرت وکړم.”

## ۴. سپاربښتني

### ۱،۴. پرمختیایی سازمانونه او بسپنه ورکونکو ته

- د استخدام سکتورونه ته لومړیتوب ورکول، زراعت هغه لوی سکتور دي چی کافی ملاتړ او پانګونی ته اړتیا لري ترڅو د دی سکتور کارکونکي و کولاي شی په کافي اندازه معیشت تر لاسه کړي .

- په ولسوالیو او کلیوالو سیمو کي د حرفوی زده کړو مرکزونه جوړول. دي کار سره به په لرو پرتو سیمو کي خلک وتوانیږي چي حرفوي مرکزونه ته لاس رسي ولري او کورنی ځانونه خوندي احساس کړي چی ښځي په کي ګډون وکړي. دا مرکزونه به کرهنیزو موسمونو سره تړاو ولري او موخه به یی داوی چی د ښځو او نارینو عایداتی وړتیاوی لوړی کړی.

- د حرفوي زدکړو په پروګرامونو کي, د سيمي مشرانو او ملاامامانو شاملول به د لا ښه تطبيق لپار مرسته وکړی. ټولنيز او مذهبي مشران ددی ظرفيت لری چی دځينو مفاهيمو لکه غيرت او ننګ شدت د ميرمنو په ګټه راکم کړي تر څو زياتره ښځي توليدي ونډه په اقتصاد کي ولوبوي.

- د بازار موندني ستراتيژي روزنه: دامريکا متحده ايالتونو د ۲۰۰۱ کال پوځی مداخلي راهيسي، ډيرو ملی او نړيوالو موسسوخلکو ته روزنه برابره کړی، مګر ډيرو نورو لاربښونو ته اړتيا شته چی څنګه له تکنالوجی څخه بهتره استفاده وشي.

- د سواد او حساب زدکړي ټولګي بايد د حرفوي زدکړو سره موازي برابر شي.

- ښځو او ځوانانوته دي په مناسبو مهارتونو کي د ښوني او روزنی لکه د ديزاين ، اړيکو، عايد ، توليد د غير کرهنيزو پروژو کي وړانديزونه وشي . هغو ښځو ته دی لنډ مهاله کورسونه برابر شي چی پخوايی روزنه ليدلي ده.

- ښځو سره د مالی سرچينو مرسته: په افغانستان کي ښځي نشی کولاي چی پورونه ترلاسه کړي ځکه نزدي ټول منقول او غير منقول جايدادونه د کورنيو د نارينه په نوم ثبت دي.

- رواني مشاوره: رواني لاربښوني دی په هغو ولاياتو کي چی لويه شميره راستنيدونکي په کي پراته دی لکه ننګرهار زياتي او هر اړخيزی شي.

**۲,۴. د افغانستان د ملي يووالي حکومت ته**

- د يو څو داسی هر اړخيزو پاليسي وو جوړول چی په نتيجه کی يی د افغانستان کرهنيز توليداتو کي زياتوالي راشي او ور سره زيات کاري فرصتونه را منځ ته شی .

- د تکنالوژی په مټ بزګران له مارکيټ سره نښلول د هغوی توليداتو ته بازار موندنه او د زيربناوو جوړول.

- همغږي رامنځ ته کول: افغان حکومت بايد د وزارتونو او ولاياتو په کچه پياوړی همغږي را منځ ته کړي او همدا رنګه يو مرکزي معلوماتي سيستم را جوړ کړی.

- د ښځو لپاره د کار د قانون اصلاح او پروړاندي يي تبعيض پای ته ورسوي. نارينه وو ته د ښځو په پرتله ترجيح ورکول کيږي ځکه چي نارينه ۱) ولادي رخصتي ته اړتيا نلري ۲) اوږدو ساعتونو لپاره کار کولي شي ۳) نارينو سره شپه او ورځ د اړيکو نيول اسانه ده ۴) نارينه ترانسپورت ته ارتيا نلري.

- دښځو لپاره د ملکيت د حقوق اصلاح کول: د افغانستان د اساسي قانون سرسم ښځی او نارينه مساوی حقوق او مسوليتونه لري دوديز او کلتوري رواجونه د ښځو د ملکيتونو د مالکيت مخه نيسي. که چيري ميرمني په خپل نوم ملکيت ولري هغوي کولي شي د خپلو پروژو تمويل لپاره قرضه واخلی چی دا پخپله نورو ښځو لپاره د کارموندني فرصتونه رامنځ ته کوي. .

- د ملي يوالي حکومت بايد د زيانمنو کارګرانو حقوق غير رسمی سکتورونو کي خوندي کړي که څه هم دا سکتور د افغانستان يوه لويه برخه تشکيلوي خو عايد يی لږ او بی اعتباره دي .

- د افغانستان حکومت او نړیوال سازمانونه باید د رسنیو په مرسته د پوهاوی کمپاین په بازار کي د کاری فرصتونو او ننګونو په هکله پیل کړي.
- د راستینډونکو او داخلي بې ځایه شویو موضوع باید په یو ملي بحث بدل شي. داسي ښکاري چې جګره به ژر پاي ته ونه رسیږي خلک به نور هم بې ځایه شي نو دا مهمه ده چې خلکوته د بې ځایه کېدو په صورت اساسي ، اړین او په وخت خدمات ورسول شي.
- خصوصی سکتور دي وهڅول شي تر څو په زراعت او نورو برخو کی پانګونه وکړي او همدا شان کرهنیز سوداګري لا پیاوړي کړي.

## ۳،۴. د اوتریش حکومت ته

- سیمه ییزو نوښتونو نه د افغان مهاجرینو له لاري ملاتړ: د اوتریش میشت افغانان ښکیلول کولاي شي چې اوږد مهاله اغیزه په افغانستان کي ولري. دغه افغانان د خپل هیواد وضعیت ښه پیژني او په اغیزمنه توګه کولایي شي چه له پروژو څخه څارنه او راپورونه برابر کړي.
- اوتریش کي په میشتو افغانانو کي ظرفیتونه تشخیصول بالخصوص د ښځو تر منځ کی او دهغوي له لاري پرمختیایی او بشری مرسته افغانستان ته انتقال کړي.
- افغانستان امن ندي: افغان پناه غوښتونکي نه باید افغانستان ته ولیږل شي ځکه چې افغانستان د امنیتی او بشري ناوړین سره مخ دی.

## ۵. میتودولوژی

دا راپور د میز او ساحوي څیړني پر بنسټ چې د ۲۰۱۷ نومبر او ۲۰۱۸ آګست میاشت پوري یي دوام وکړ بنا ده. هڅه شوي تر څو د افغانستان د بازار کار او په ځانګړی توګه د کار غیر رسمي سکتور خصوصیات او ځانګړتیاوي وڅیړل شي.

د افغانستان د پراختیا او سولي څیړني سازمان تیم پنځوس ژوري مرکي د افغان حکومت اړوندو وزارتونو، نړیٔ وال سازمانونو ، استخدام کونکو، ښځینه سوداګرو او ماهرینوسره تر سره کړي چې په هغي جمله کي یوویشت مرکي د هغو راستنیدونکو ښځو او نارینه وو سره شوي چې په زوره له پاکستان څخه را ایستل شوي دی او د افغانستان په خیټځ کي میشت دي. ټولي مرکي په پښتو او دري ژبو تر سره شوی چې وروسته په انګلیسي وژباړل شوي پرته له یوي مرکي چې په انګلیسي ژبه شوی وه.